دَ پښتو حروف تهجی دَ زده کړي دَ پاره

# منظومه

# دَ پښتو قاعده

ليکوال

مولانا احمدعلی مردانی

ناشر

اسلامی ادبی تولنه

0312-9818511

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم اللّٰه الرحمٰن الرحيم

# وصلى اللّٰه تعالىٰ على النبى الامّى

## دَ ,, ا ،، بيان

الف نيـــغ هـــــر دم ولاړ دے
ورتــــه كـــوره سَــم ولاړ دے
نــــه وي مـــلاســت دغـــه الف
نــــه وي نـــاســت دغـــه الف
پـــه صــورت نيــغــه چــوكــه ده
يــوه كــرښــه پـــه صــفــحــه ده
نيــغــه كــرښــه تــل ولاړه
حــق چــې ستــاوي هــغــه غــواړه
سَــم ولاړ پيــن او قــلــم دے
ورســره پـــه شـــكــل سَــم دے
دا صـــورت تـــل دَ الف وي
حـــقيــقــت تـــل دَ الف وي
كـــۀ امــرود دے كـــۀ انـــار دے
شـــورو دي ســره هــر بـــار دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مثالونه

له الف نه جوړ انار دے
طاقتور دے مزیدار دے
رنګ ئي سور لکه دَ وینې
مېنځ ئي ګوره داني دار دے
جوړ الف نه تهکي آم دے
خوښ دَ هر بنی آدم دے
رنګ ئي زیړ ، هلوکي غټ دے
په طبیعت سړه ګرم دے
سر کښي دَ انګور ، اچار
شوروکښي دے دَ انکار
دَ الله سره په سرکښي
الف تل اُوسی هر درکښي
ابتدا کښي دَ اسلام
سر کښي الف دَ انعام
په امرود کښي دے اول
اول تهکي دَ اصل
سر کښي دَ اکي الف

(c) ketabton.com: The Digital Library



سـر كښې دَ ابـى الف
دَ اكـوړ تـكـى پـه سـر كښـې
الف ښـكـارى لـرا و بـر كښـې
دَ اوښ تـكـى ابتـدا كښـې
ورسـره الف دُنيـا كښـې

.......................................

## دَ ,, ب ,, بيان

پـه صـورت كښـې ,, ب ,, كشتـې ده
ذريـعـه ښـه دَ سـورلـې ده
يـو نـقـطـه ددې نـه لانـدې
,, ب ,, نـقـطـه نـه لـرى بـانـدې
ورتـه گـوره ,, ب ,, ده مـلاستـه
يـا دمـه دَ هـر نـاراستـه

............... مثالونه ...................

ب پـه سـر كښـې دَ بـازار ده
ب پـه سـر كښـې دَ بيـمـار ده
بـس ، بـاچـا ، بسـكـټ ، بـركـر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب لري هريو په سر
سر كښي ب دَ بلاك ، بنګلي ده
سر كښي ب دَ بستري ده
ب باجه كښي ده بجلي كښي
ب په سر كښي ده بېنډي كښي
ب په سر كښي دَ بنګال ده
ب په سر كښي دَ بلال ده
بينك دا ب ده برياني كښي
سر كښي ب ده بادشاهي كښي
دَ بستي په سر كښي ب ده
برياني كښي دَ مزي ده
بې نه بُرش دَ جهان جوړ دے
دَ ويختو له حيوان جوړ دے
پلاستيك نه هم هرخوا ته
دا په هريو مكان جوړ دے
بې نه بطحي دَ جهان دى
دا خوشحاله په ميدان دى
دا په زمكه په اوبو كښي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا اُوســـــي زمـــونـــــږ کـــو خـــو کښـــي

..........................................

## دَ „ پ ،، بيان

پ دَ لانــــــدي تـــــکـــــي دري وی

نـــــور بـــــه شـــکـــل ئـــي دَ بـــي وی

................ مثالونه ....................

پيــــاز ، پيـــنســـل دَ پــــالك ســـر کښـــي

پ راځــــــي پــــــه لـــــر او بـــــر کښـــــي

ابتــــدا کښـــــي پ پـــــارتـــي کښـــــي

ابتــــدا کښـــــي پ پيـــــالـــي کښـــــي

پــــــالـــــنګ پ ســــــره دے پـــــان

پ ســـــــــره دے پـــــــــاکستـــــــان

پـــــارك، پـــــاپـــړ ، پـــــالـــش دَ پ نــــه

ځـــــان خبـــــر ســـــاتــــه لــــه دي نــــه

پــــي ســــره جـــوړه پيــــالـــي ده

ګــــرمـــه ، يــــخـــه پـــــه کښـــي چـــي ده

کــــلـــــه کــــلــــــه ورتــــــه ګــــورم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډکه ډکه چي له پي ده
جوړ پکي دَ ټکي پي نه
دا هوا راځي له دي نه
په بجلي باندي دَ کار دے
خالي نه دے له فائدي نه

..........................................

## دَ „ ت ،، بيان

ت جوړيږي هم دَ بي نه
اول ټکي لر کړه دي نه
پاس په ت کښي ټکي دوه وي
هريو ت په دي خائسته وي
ورسره تبر جوړيږي
ملاسته دا ليکلے کيږي

............... مثالونه ...................

ت تحفه کښي ده په سر کښي
ت توبه کښي ده په سر کښي
په تاريخ کښي ت اول ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



مدام دا حصه دَ تَل ده
دَ ترکی په ابتدا کښې
ت به وویني په دُنیا کښې
تسبیح سره په آغاز کښې
لیك لری په خپل انداز کښې
سر کښې ت په ترانه کښې
تیل ، سره تکي تاله کښې
سر کښې ت ده تلاوت کښې
ده آخر کښې آخرت کښې
تې نه تبر دَ جهان دے
ضرورت دَ هر انسان دے
دا خنکل کښې پکاریږی
قیمتی دغه سامان دے
تې نه تلل تول دَ پاره
دَ هر چا ده مددګاره
په دُکان کښې دَ انسان وی
نه ده نه ده دا بیکاره

.............................................

# دَ „ ټ " بیان

ټ له ت نه شې جوړولې
کۀ ته لږ شې شان کړولې
چي کندېږه ت ته په مَلا شی
ټ به جوړه د دُنیا شی
په صورت کښي سَمه ټي ده
دا لیکلي تا چي ټي ده
په کندېږي ، والي بدله
راروانه له ازله

## ................... مثالونه ...............

ټینك او ټپ هم په ټریکټر کښي
ټ اول ده په ټینکر کښي
ټ په سر کښي هم دَ ټال ده
ټاټ ، ټکټ کښي دا هر حال ده
ټیسټ په ټی وی ، په ټوکري کښي
ټ ده سر کښي په ټرالي کښي
ټ په سر کښي دَ ټافي ده
په ټریفك کښي په خپل ځائي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـــــې ســـــــره تـــــوپــــــي ذَ ســـــــر ده
پـــــــــه ســـــر کـــــــړے هــــــر بشـــــر ده
ذَ ګــــــرمــــــي نــــــــه حـــفــــاظـــــت دے
حـــفــــــاظــــــت لــــــــه يــــخ اثــــــر ده
تـــــې ســــــــره ســــــور تـــمـــــاتـــــــر دے
دستيـــــــــــاب پــــــــــه لـــــــراو بــــــــر دے
دا خــــــــوراك زمــــــونــــــــږ ذَ تـــــولـــــــو
پـــــــه دُوکـــــــان کښــــــي پـــــروت بهـــــر دے

.......................................

## ذَ „ ث ‟ بيان

ث ذَ پـــــــــاســـــــــــه تـــکــــــــى دري وى
خـــــنــــک چــــــي تــــکـــــــى دري ذَ پــــــي وى
فـــــــــرق دا دے دغــــــــــــــــه پـــــــــــاس وى
لانــــــــدي پ کښــــــــي پـــــــــــه اســــــــاس وى

................ مثالونه ...................

ذَ ثـــــــانــــــــى پـــــــــــه ســــــر کښـــــــي ث ده
خــــــــالـــــــــى کـــــلــــــــــه ذَ فــــــــائـــــدي ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرکښي ث ده مدام ثنا کښي
ذَ ثالث سر ابتداء کښي
ثوبیه ده ثمینه ده
اول دلته ث پرته ده
د وارث ټکی اخر کښي
ذَ حارث ټکی اخر کښي
په ثاقب کښي ث اول ده
ذَ ثواب په سرکښي تل ده
ثقافت له ث شورو دے
دا بیان ذَ یادیدو دے
ث ثبوت سره په سرکښي
همیشه ښکاری هر درکښي
ثي نه ټکي جوړ ثمر دے
طاقتور دے ، طاقتور دے
منډي ډکی دی له دي نه
دا صحت له ذَ بشر دے

..........................................

...................

# دَ پنځو ټکو خاندان

دَ پنځو ټکو دا کور دے
يو ئي شکل په هر لور دے
په صورت کښې ټول يو شان دي
په نقطو بېل په جهان دي
دغه بې او پې او تې ده
ټې سره په خوا کښې ثې ده

.........................................

# دَ « ج » بيان

جيم ته ګوره پاس سپوږمې ده
پاس لکې ئي ده نرۍ ده
يا صورت ئي سَم دَ لور دے
دغه جيم دَ کلي کور دے
مينځ کښې ټکې يو نقطه وي
دَ هر جيم دغه حصه وي
تش يو خال ئي په بدن وي
ورسره ښکلي ئي تن وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ................ مثالونه ................

جنوري هم په جادو په جادو کښي
جيم شامل دے په جارو کښي
جوړ له جيم نه تهکي جج دے
په اخر کښي جيم ډ حج دے
سر کښي جيم ډ جام او جال دے
جيم په سر کښي ډ جلال دے
جگ ډ جون ، جواب په سر کښي
ډ تهکي جناب په سر کښي
جيم په سر کښي ډ جهاد دے
دا آغاز دے دا بُنياد دے
ډ جوس جيم نه ابتدا وي
سر کښي ډ جولائي دا وي
ډ جفا په سر کښي جيم دے
ډ جزاء په سر کښي جيم دے
ډ جوسر ، جامن په سر کښي
جيم مدام وي په هر در کښي
سر کښي جيم دے ډ جنت

(c) ketabton.com: The Digital Library



جیم دے سر کښې د جدت
سر کښې جیم دے د جاپان
جیم دے سر کښې د جانان
سر کښې جیم دے په جذبه کښې
په جنون کښې ، جزیره کښې
جیم سره تکې جهاز دے
الوتونکې لکه باز دے
ذریعه د تللو راتلو ده
ډیر اوچت ددۀ آواز دے
د جهنډې دے جیم په سر کښې
بیره بره وی هر در کښې
زمونږ دوه رنګه جهنډه ده
دا به څنګ وی ستا نظر کښې

.............................................

## د ‹‹ څ ›› بیان

په پښتو کښې تکې څیم دے
په صورت سره تول جیم دے

وجود ځة لري په مينځ کښي

نقطه نه لري په مينځ کښي

همزه بره ئي په تن وي

دغه ځيم د هر وطن وي

د جيم، ځيم يو خاندان دے

د هريو جُدا مکان دے

د هريو جدا آواز دے

مينځ، اخر دے کة آغاز دے

ځيم د زي آواز يوشان دے

خو بيل بيل ئي خاندان دے

## ............... مثالونه ...................

ځائي کښي ځيم دے په اول کښي

دا مدام وي دي محل کښي

ځيم په سر کښي د ځنګل دے

ځناورور له کور خپل دے

ونې ډيرې دی بې شميره

علامت ئي دغه تل دے

ځيم د ځوان په ابتدا کښي

دا لوستي شي په دُنيا کښي
دَ خزان په شان تيريږي
ځواني نه ښکاري بابا کښي

..............................................

## دَ ”چ“ بيان

مينځ کښي دري ټکي دَ چ وي
ځيم کښي بره ټکي دري وي
نور صورت ئي ټول دَ جيم دے
نه دا چ ده ، نه دا ځيم دے
تل ئي مينځ کښي دري نقطي وي
جيم نه بيل مدام په دي وي

............... **مثالونه** ....................

دَ چميار په سر کښي چ ده
دَ چنار په سر کښي چ ده
سر کښي چ مدام دَ چال وي
ستا کة دي ټکي ته خيال وي
چ سره آغاز دَ چين دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورســـــــره تـــکـــــــي حسيـــــن دے

دَ چـــــــالاك پـــــــــه ابتـــــدا کښـــــي

چ دَ چـــــــاك پـــــــــه ابتــــدا کښـــــي

دَ چــــاکـــليـــــټ دَ چــــار شـــورو کښـــي

چ راغـــــی پـــــــه دي مـــوقـــعـــو کښـــي

خـــــرچ کښـــــي چ پـــــــه اختتــــــام ده

کُـــچ او پـــــرچ کښـــي شـــــــه تـــمـــــام ده

دَ چـــــرګ ســــــر کښـــي چـــي مــدام وی

خـــوښ مـــــدام دَ خـــــاص او عـــــام وی

دا ســـــحــــــروائـــی بــــانــــګـــونـــــه

نـــــــوره شپـــــــــــــــــــه ددۀ آرام وی

چـــي چتـــري ســــره پـــــه ســــر کښـــي

نـــه ښـکـــاريـــږی دا پـــه نـمـــر کښـــي

هـــرکـــلـــــه چـــي بــــاران راشـــــی

راښـــکـــاره شـــی لـــــر او بـــر کښـــي

.....................................

...............

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ ,, ځ ،، بيان

ځيم کښې بره تکي دري وي
څنګ چې مينځ کښې دري دَ چ وي
نور صورت ئې تول دَ جيم دے
په نامې سره دا ځيم دے

## ............... مثالونه ...................

ځيم ځپلي سره په سر کښې
دا دے تل وي ستا نظر کښې
حفاظت په دي دَ ځپو وي
پکاري هر سفر کښې
ځيم ځادر سره په سر دے
پت په دي سره بشر دے
دَ هر چا ډير پکاري
زنانه دة او که نر دے

..............................................

.................

# دَ „ ح " بيان

سَم د جيم په شان دا حي ده
دا صفا ده بي نقطي ده

## ............... مثالونه ...............

حوض ، حمام جوړ دے له ح نه
ځان خبر ساته له دي نه
سر کښي ح تل دَ حاجی ده
ابتدا دَ حلوائی ده
ح سره جوړ حکومت دے
ح سره حق ، حقيقت دے
ح سره حسن ، حسين دے
ح اول ده په حلقه کښي
په حکم ، ټکی حصه کښي
دَ حسن ده ابتدا کښي
دَ حسين ده په وينا کښي
حي شورو کښي دَ حلواوی
خوښه دا زما او ستاوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



حلوائی سره دُکان کښې
مدام دلته په دُنیا وی

....................................................

## دَ ,, خ ،، بیان

دا چې ح پسې دا خ ده
بیله کله له نقطې ده؟
یو نقطه ئې پاس په تن شته
دَ خ دا صورت بدن شته
نوره تېوله سَمه خ ده
تالیدلې چې څنګ ح ده
مشران هم داسې وائی
کشران هم داسې وائی
یو نقطه دَ خ په سروی
که ستا سرته ئې نظروی

............... مثالونه ...................

سر کښې خ دَ خلافت وی
خ سر کښې دَ خیریت وی

دَ خادم، خالي په سرکښې
همیشه وي خ خبر کښې
خ سره جوړ خاندان دے
خوب، خالد سرکښې دَ خان دے
سرکښې خ مدام دَ خال ده
په آغاز کښې خ دَ خیال ده
خټکی په سرکښې خې ده
دا میوه ښه دَ فائدې ده
بدنونه غټوی دا
میوه یاده تل په دې ده
خُرمانې سره خې سرکښې
دا به تل وی ستا نظر کښې
مزیداره ښۀ میوه ده
پټه مه اُوره څادر کښې

.....................................................

## په ”ح“ او ”خ“ کښې ظاهري فرق

یو نقطې سره دوی بیل دی
یو ریوشان په هر محل دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـــــاس پــــــه خ بـــــره نـــقـــطــــــه وی
دَ ح پــــــاکـــــــــه پـــــــاس حــــصـــــــــه وی

..........................................

# دَ شپږو تکو خاندان

شپـــــږ دا ټـــکـــــی څـــنـګ پـــــه څـــنـګ دی
هـــــم جــــــدا دی پــــــــــــه یـــــو رنګ دی
جیـــم تـــــــه ګـــوره پـــــاس سپـــوږمـــۍ ده
خـــو پـــــــه تـــن ئـــي پــــاس لـــکـــي ده
چـــــي صـــــورت ئـــــي سَــــم دَ لــــوروی
دا بـــــــــــه جیـــــم دَ کــــلـــــــی کـــــوروی
میــــنـــځ کښــــي ټـــکـــي دَ هـــر جیــم وی
هـــمـــــــزه بـــــره بــــــه پــــــه څیـــم وی
نـــورپــــــــه شـــکــــل دوی شـــــــان دی
دوی دَ یـــــو کـــــور خـــــــانـــــــدان دی
میـــنـــځ کښــــي دري ټـــکـــی دَ چـــي وی
څیـــم کښـــــي بــــــره ټـــکــــــی دري وی
ح او خ دواړه یـــــــــــــــو شـــــــــــان وی
بـــــــــس جُـــدا پـــــــه یـــو نښـــان وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ح خالی له هر نقطي نه
ځان خبر ساته له دي نه
خ نقطه لري په سر
ورته اوکړه لږ نظر
یو نقطي سره دوی بیل دی
نوریوشان په هر محل دی
پاس په خ بره نقطه وی
دَ ح پاکه پاس حصه وی
شپږ دا تهکی څنګ په څنګ دی
هم جُدا دی ، هم یو رنګ دی
په نقطو له یو بل بیل دی
محلونه ئي بدل دی
په شکلونو تول یو شان دی
په نقطو بیل په جهان دی
آوازونه ئي بدل دی
څکه دا حرفونه بیل دی

.............................................

.................

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دَ "د" بيان

تيت وی تيت هغه هر حال
مَلا کړه لری دا دال

نه نقطه ئي په صورت شته
تل ئي دغه شناخت شته

## ............... مثالونه ...................

دال په سر کښي دَ دادا دے
څنګ چي سر کښي دَ دانا دے

دال هرخواته په دُعا کښي
دال دوات سره دُنيا کښي

مدام سر کښي دَ درزی وی
جوړه دال نه دوائی وی

دال په دين کښي په دربار کښي
داغ کښي دال ، مدام ديار کښي

ديګ له دال نه جوړ هرخواته
مَلا دَ داغ دَ دليل ده ماته

دال په دوست کښي تل په سر وی
درد کښي دال په لراو بر وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دال دُکـــــان کښــــي مــــلاويــــږی
دال دربـــــان کښــــي مـــلاويـــــږی
دروازه کښـــــــــــــــي دال اول دے
ضـــــــرورت دَ کـــــور مـــــحـــــل دے
الـــمـــاروکښـــي پـــه کـــرکـــوکښـــي
بــــــس صــــورت ئـــي لږ بـــدل دے
دال پــــــــه ســـــرکښــــي دَ دوات دے
بـــنــــد بـــوتـــل دَ ښـــــه صـــفـــات دے
حـــفـــاظـــت دَ ســيـــاهـــي کـــږي
داســـــــي دلتــــــــه ددهٔ ذات دے

.............................................

## دَ „ ډ “ بيان

دال پســـــــے مــــــحــــــل دَ ډال دے
پـــــــه صـــــورت ســـــره سَـــم دال دے
بـــــــس کـــنــدِه لـــری پـــه تـــن دا
بـــــي نـــقـــطـــو دلتـــــــه بـــدن دا
دا حــــالــــــت دَ ډــــــريـــــــو ډال وی
پــــټ لــــه چــــانــــه ددهٔ حــــال وی

## مثالونه

ډانګ کښي ډال په ابتدا کښي
ډول کښي ډال دے وینا کښي
ډاګ کښي ډال مدام په سروی
ډرم کښي ډال په لراو بروی
ډال ډیره کښي په ډولي کښي
ډال دي سرته په ډګري کښي
سر کښي ډال به دَ ډالروی
سر کښي ډال دَ هر ډاکټروی
ډال په سر کښي دَ ډولکی وی
سر کښي ډال دَ ډکډوکی وی
ډال په سر کښي دَ ډبی دے
څیز په دي بیچ قیمتی دے
رنګ په رنګ دا په جهان دی
دا اعلا هم، دا ردی دے
ډول سره دے ډال په سر کښي
غم کښي نه وی لراو بر کښي
په ښادو کښي وی مدام دا

رانښکاره شي په نظر کښي

.............................................

## دَ „ ذ “ بیان

ډال پسې محل دَ ذال دے
یو نقطه لری نور دال دے
یو نقطه لری دَ پاسه
ذال جوړیږی ستا دَ لاسه
مَلا ئې تیته هر ساعت وی
دا دَ ذال تل حقیقت وی
خال، نقطه ئې پاس په تن ده
نخه یو ئې په بدن ده

............... مثالونه ..................

ذخیره کښې ذال په سر دے
کاراعلا بنة دَ هنر دے
دا چې نن ښه ذخیره شي
دا صبا لره توښه شي
ذال په ذکر کښې اول دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ سکون دغه عمل دے
څنګ چې ذات او ذریعه ده
ذال سره ذهین ذائقه ده

..............................................

## دَ „ ر ،، بیان

دغه ناسته کېږه ري ده
خالی دا له هر نقطي ده
سَم دَ لور پشان کږه ده
یا سپوږمي نري وړه ده
چېرهائی سَمه دَ لار ده
چېرهائی دَ کلی ښار ده

### ................ مثالونه ................

سر کښې ر دَ ریل ، رسي ده
مېنغ کښې ري دَ الماري ده
ر ده راز کښې په رفتار کښې
ر اخر کښې په بازار کښې
ر رومال کښې په ریښم کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ســـــر کښـــــي ري ده پـــــــه رحـــم کښـــي
رنګ کښـــــــــي ري مـــــــدام اول کښــــــــــي
پـــه خپـــل ځـــائي مـخـصـوص مـحـل کښـي
ري اول ده پـــــــــــه رکشـــــــــــه کښـــــــــي
وی مـــــدام دغـــــي حـــــصـــــي کښـــــي
ښـــــــــۀ ســـــورلـــــي زمـــونــــړ دَ ټـــولـــو
دَ ورږو ، لـــــــويــــــو ، هــــمــــــځــــولــــو
ري راځــــــــــی دَ ريـــــــل شـــــورو کښـــــــي
چـــــرتـــــه کـيـنـــــه ئـــي ډبـــو کښــــي
سَــــم دَ غـــــوا پــــــــه شــــــان آواز ئـــــي
سَــــم دَ مــــــار پـــــــه شــــــان انـــداز ئـــــي

..........................................................

## دَ ,, ړ ،، بيان

چــــــي کُـــــنــــــډه ورړه پـــــــــه ري شـــــی
جـــوره هـــــلــــــــه سَـــمـــــــه ړي شـــــی
دا پـــــــــــــه ښــــــــی طـــــــرف مــــدام وی
هـــــلـــــــــــه ړي بــــــــــــه دَ کـــــلام وی
نـــــور صـــــــورت ئـــــــي ټـــــول دَ ري دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا بيـــــــــــان چـــــــي تـــــول دَ ړي دے

## ................ مثالونه ..................

ړي ذَ رونـــــد ســــــره روانـــــــــه

مــــلــــکــــرتيـــا ئـــي لـــــه پـــخــوانـــه

نـــــه څـــــه ښـــکــــاري ورتــــه دلتـــــه

نـــــه څـــــه ښـــکــــاري ورتــــه هــلتــــه

ړپـــــه جـــوړ کښـــي پــــه اخـــرکښـــي

تـــکـــي زوړ کښـــي پـــــه اخــــر کښـــي

.............................................

## دَ ,, ز ،، بيان

چـــي نــقــطــــه ري تــــه پـــــه ســـر شـــي

زي پــــــــــه شــــکـــل بـــــرابــــر شـــي

چـــي نـــقـــطــــه کـــلــــه پـــــه ري شـــي

هــــلــــــه شـــکـــل جـــوړ ذَ زي شـــي

دا نـــــقــــطــــــه ذَرا ذَ پـــــــاســــــــه

شـــــــابــــــه زي نيســــــــه ذَ لاســـــــه

چـــــړهــــــائـــــي ذَ لـــــوبـــــو سَـــمـــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ر ، ړ ، ز ده مـــــــحتـــــــرمــــــــه

## ................ مثالونه ................

زي زنـــــځيـــــر ســـــره تـــــړلـــــے
مـــــــا مــــــدام داســــــې ليــــدلـــــے
دا دَاوسپــــــــنـــــــې کـــــــــړے وی
دا تـــــــــه نـــــــه پيــــــــژنـــــې وُلـــــے؟
زي پـــــــــه ســــــر کښــــــې دَ زمــــــری ده
ورســـــــره ګـــــــرانــــــه دوستـــــــی ده
ځـــــنــــــاور خــــو ځــــنـــــاورروی
دَ انســـــــان ميـــــنـــــه خـــــوبــــی ده

.................................................

# دَ „ ژ ،، بيان

چـــې نـــقـــطـــې شـــی دري دَ پـــاســـه
زي شــــــی جـــــوړه سَــــم دَ لاســـــــه
نـــور صـــورت ئـــې تـــل دَ زي وی
دا چـــې دلتـــــه جــــوړه ژي وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## .............. مثالونه ..............

ژيې دَ هـــــــرژيــــي مــــلـــــګـــــرے
کــــلـــــه کـــلــــه کــــړی خبـــــرے
دَ انســـــــــــــان وی دَ حيـــــــــوان وی
دا ګــــــواه دے ښــــــــار او کـــلـــــے

..................................................

## دَ ,, ږ '' بيان

چــــــي شــــکـــــل ســــمـــــــه ږي ده
پــــــه نــــــامـــــي ســــــره دا ږي ده
لانـــدي بـــــانـــدي ئـــي نـــقــطــي دی
نـــخښـــــانـــــي دغـــــــه دَ ږي دی

## .............. مثالونه ..............

ږي مــــــلـــــګـــــــري دَ ږلـــــــي ده
دَ بــــــاران ســـــــره يــــــوځـــــائـــــي ده
کـــلــــه کــــلـــــه وی بــــاران کښـــي
مـــدام نــــــه وی پـــــــه جهــــان کښـــي

..................................................

## ذَ ,, ر ، ړ ، ز ، ژ ، ږ ،، خاندان

ري او ړي ورپسي زي ده
ژي سره په خوا کښي ږي ده
ذَ پښتو ټکو دا کور دے
شکل يو ئي په هر لور دے
په نقطو ، کنډي جدا دي
چي دا څومره ټکي دا دي

..........................................

## ذَ ,, س ،، بيان

دري ئي غاښي په اول دي
ديو کندي په محل دي
نه نقطه ئي شته په تن
پاك له خال نه ئي بدن
په نامي سره دا سين دے
ورته ګوره ښه حسين دے

............... مثالونه ...............

سين په ستورو کښي مدام وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بـــره وروستـــو لــــــه مـــــابنـــــام وی
دَ رنهــــــــــــا دا وسيــــــــــلــــــــــه ده
دَ رنهـــــــا بنـــــــــــۀ ذريــــــعــــــــه ده
پـــــه سپــوږمـــي کښـــي سيـــن تـــمـــام وی
پــــــه نـــظــــرِ دَ خــــــاص او عــــــام وی
دا کــــــمـيـــــــــږی يــــــــا غتيــــــــږی
بــــره تـــــاتــــــه چـــي ښــکـــاريـــږی

................................................

## دَ „ ش ،، بيان

شيـــن لــــــه سيـــن لــــــه لږ جُـــدا دے
بيـــل پـــــه دري نـــقـــطـــو صـــفـــا دے
دري غـــــــابنـــونــــــه هــــم دَ شيـــن وی
څـــنګ چـــي دري غـــابنــــــه دَ سيـــن وی
دري نـــقـــطـــي ئـــي پـــــه غـــابنـــونـــو
يــــــادکـــــږه دا لـــــــــه کتــــابـــونـــو

............... مثالونه ....................

شـــــــادونــــــا ستــــــــه شيـــن ســــره ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



شکور سره ، ګبين سره ده
شين شورو کښي دَ شادو وی
ښه ښکاره دا په کتو وی
شکور کښي شين مدام شورو کښي
ښه اسان دے په لوستو کښي
شکور جوړ شوے دے روټوله
دا جوړ شوے دے ژوندوله

..............................................

## دَ „ ښ " بيان

دا په شين پسے چي ښين دے
په صورت سره سَم سين دے
لاندي باندي دوه نقطي دی
دَ مينځ غابښ سره نزدي دی

............... مثالونه ..................

ښين دَ ښکر مدام په سر وی
دا په سر دَ ځناورو وی
غوا ، غوائی ته نظر اُوکړۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښــــکــــــرد ميـــــخــــي بــــرابـــــروی
ښــخــــه کــورکښـــي نـــاستــــه ښـــهٔ وی
پـــــــه دي نـــــاستــــــــه دا درنــــــهٔ وی
هــــرطــــرف تــــــه دي دا نــــــه ځـــــی
هســــي نــــــه چـــي بيـــا خـــفــــه وی

.................................................

## دَ „ س، ش ، ښ„ خاندان

سيـــــن او شيــــن دے او کـــــــه ښيــــن دے
هـــريـــو تـــکـــي ډيـــــر حسيــــن دے
چـــي دَ سيـــن تــکـــی دري مَـــل شـــی
سيــــن پـــــــه شيــــن ســــره بــدل شــــی
لانــــدي بــــانـــدي کــــــهٔ نــقـــطـــي وی
ښيـــن بـــــه جـــورپـــــــه قـــاعــدي وی
دري غـــــاښـــونــــــه ئـــي پــــــه تــــن وی
کـــــــهٔ دَ سيـــن ، شيـــن ، ښيـــن بــدن وی
يــــــــو ددوی دے خـــــــــــــانـــــــــــدان
بيـــــل آواز ئـــــي بيــــل ئــــي شـــــان

# دَ „ ص " بيان

وريسي تهکي دے صاد
دَ نقطي نه دے آزاد
دَ مهي په شان ئي سر دے
دا بي خلي دے بي وزر دے
نور صورت ئي تهول دَ سين دے
ښکلي صاد دے بهترين دے

## ............... مثالونه ...................

صاد په سر کښي دَ صابون دے
ضرورت د دي ژوندون دے
ذريعه ښه دَ پاکي ده
چي بدن پاك وی سکون دے
دَ صندوق په سر کښي صاد وی
دَ لرګی هم دَ فولاد وی
شته واړه او لوئي دُنيا کښي
صاد تهکي ئي ابتدا کښي

..................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ « ض » بيان

صاد پسې دَ ضاد مقام دے
پېژندلے خاص او عام دے
بيل جُدا دے ضاد له صاد نه
په نقطې يَو له بُنياد نه
په هر ضاد باندې نقطه وي
ضاد دې تکي نامه وي
صاد او ضاد دواړه يو شان دي
په نقطې بيل په جهان دي
يو ئې کور يو خاندان دے
دَ هريو جُدا پهچان دے

.................. مثالونه ..................

ضاد مدام دَ ضعيف سرکښي
دا مدام ساته نظر کښي
تل دوي خدمت په کار دے
تا سره کۀ مَل په لار دے

..................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ „ ط “ بیان

ضـــــاد پســـــے مـــقـــــام دَ طــــي دے
دَ الف لانـــــــــــدي مهـــــــــــي دے
دَ مهـــــــــی پـــــــــه ســــــر الف دے
تـــــــل پـــــــــه دغـــــــي در الف دے
داســـــي طــــي لیـــکـــلـــي کیـــــږی
دا بـــــــه تـــانـــــه نـــــه هیــــریـــږی

................ مثالونه ....................

دَ طـــوطــــی پــــه ســـر کښـــي طـــي ده
پـــــه ظـــروف کښـــي چـــي خـــنګ ظـــي ده
دَ هـــــر تـــــکـــــي خپـــــل مـــقـــــام دے
خپـــــل آواز ئـــــي ښــــــه تـــمـــــــام دے
دَ طـــــــــاؤس پـــــــــه ابتـــــــدا کښـــــــي
طــــــي راځـــــی مــــدام دُنیـــــا کښـــــي
پـــــــه حُســـــن ښـــکـــلا یـــــادیـــــږی
خپـــــو تـــــه ګـــوری خـــفـــه کیــــږی

..................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ „ ظ “ بيان

طـــي ســـره پـــه خـــنګ کښـــي ظـــي ده
بيـــلـــه طـــي نـــه پـــه نـــقـــطـــي ده
نـــوره طـــــي تـــــل پـــــــه صـــورت ده
ښـــــه ښـــکـــــاره دا هـــرســـاعـــت ده

............... مثالونه ...................

دَ ظـــــــروف پـــــــه ابتـــــدا کښـــــي
ظـــــي راځـــــى مـــــدام دُنيــــا کښـــي
دغــــــــه لـــــوښـــــى دَ جهـــــــان دي
کـــــورکښـــــي دا دَ هــــــرانســــــان دي

..............................................

# دَ „ ع “ بيان

عيـــــن تـــــــه ګـــوره پـــوره لـــــورد ے
زميــــنـــــدار ســـــره پـــــــه کـــــورد ے
شَـــــمـــــــــــه تـــــوره دَ ميــــدان ده
يــــا ســپــــوږمـــي دَ پـــــاس اســمـــــان ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ................ مثالونه ................

دَ عقاب ته کي له عين نه
عام ، عذاب ته کي له عين نه
ورته ګوره په کښي عين ته
ګوره وروره ! په کښي عين ته
دا عينک چي دَ نظر دی
دا عينک چي دَ بشر دی
په آغاز کښي په کښي عين دے
پوهه خلق ټول خبر دی

........................................

## دَ „ غ ‟ بیان

غين په عين په سے مدام وی
په نقطي ته کي تمام وی
غين نقطي سره جُدا دے
غين چي دلته کښي ادا دے

## ................ مثالونه ................

غين دَ غوا ته کي شورو کښي

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوړ کښې دا تېکې شورور کښې
ورته غوراوفکر اُوکړه
غين صفا تېکې شورو کښې

..........................................

## دَ „ ف ،، بيان

ف صورت کښې تپوله بې ده
خو جُدا صرف په خلې ده
خلې سره ئې دائره ده
دائرې باندې نقطه ده
ښى طرف ته ئې سر پروت دے
داسې ښکارى بشر پروت دے

................ مثالونه ................

فې په سر دَ فوارې ده
مينغ کښې دا دَ باغيچې ده
فواره حُسن ښکلا ده
ډيره ډيره دَ فائدې ده
فې آغاز کښې دَ فټ بال ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



فائده منده دا هر حال ده

مينغ، شورو په انتها کښې

في راتلې شی په دُنيا کښې

..................................................

## دَ „ ق ،، بيان

ف پسې دَ ق نمبر دے

هر اُستاذ پوره خبر دے

غونډ موند دے دَ قاف صورت

که ته ۃ غواړے حقيقت

ښی طرف ته دائره ئې

ښکنک په څنک بره نقطه ئې

دوه نقطې ئې دی په تن

دا وجود ئې تپول بدن

................ مثالونه ..................

قاف قالين کښې په قلم کښې

په قميص په هر قدم کښې

په قينچې او په قبضه کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



قــــاف لـــــري اول حــــصــــــه کښــــي

قـــــاف پــــــه ســــر کښـــي دَ قــــران دے

قــــاف قـــانــون کښـــي ښـــه عيــان دے

ســـر کښـــي قـــاف دے پــــه قبلــــه کښـــي

قـــــافـلـــــــه ، قـــوم ، قـــصيـــده کښـــي

ابتــــــداء کښــــــي راځـــــــي قـــــــاف

انتهــــــا کښــــــي راځــــــي قــــــاف

کـــلـــــه کـــلـــــه ميــنـــځ کښـــي دا وی

پــــــه لـــوستــو لــــــه کـــاف جُــدا وی

...........................................

## دَ ,, ك ،، بيان

قـــــاف پســـــي دَ کــــــاف مــقـــــام دے

دَ تـهــــرك شــــکــــل ئــــي تــمـــــام دے

نـــــه ئـــي مــخــــه نــــه تيــــرونــــه

داســـي ډيـــرشتـــــه دے ځيـــزونـــــه

............... مثالونه ..................

کـــــاف پــــــه ســــر کښـــي دَ کتـــاب دے

سر کښي دَ کدو، کباب دے

سر کښي کاف دے په کرسي کښي

اول ته کي کراچي کښي

سر کښي ته کي دَ کمبل دے

په کامل کښي دا اول دے

کاف په سر کښي دَ کشمير دے

شورو ته کي دا دَ کهير دے

دَ کنجوس ته کي اول دے

په کالج کښي سر کښي تل دے

دا اول ته کي دَ کال دے

کاف شورو کښي دَ کمال دے

په کاغذ او په کابل کښي

کاف شورو کښي په اول کښي

کاف نه ډير ته کي جوړيږي

ولُے تاته نۀ يادېږي

................................................

## دَ ,, ګ ،، بيان

چي کنده کاف سره مَل شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاف به ګاف سره بدل شي
کاف نه ګاف داسي جوړېږي
په دي تول خلق پوهيږي

## ............... مثالونه ...............

دَ کلاس تر کې اول دے
دَ ګل سر کښي هرخوا تل دے
په ګجرات، ګناه، ګرمي کښي
ګاډی، ګارډ او په ګولي کښي
ګاف شورو کښي دَ ګازرو
دا سبزي ده دَ خوړلو
کاف سره ګډی جوړېږي
څوك په دي به خوشحالېږي؟
ګيس کښي ګاف مدام اول کښي
راځي ګاف په هر محل کښي
مينځ، اخر او ابتدا کښي
ګاف ليدلے شي په دُنيا کښي
دَ ګُرګُر په سر کوپي کښي
مينځ کښي ګاف دے په لړګي کښي

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګ کښې ګاف په اختتام دے
ګاف حُسن دَ هر کلام دے

.................................................

## دَ „ ل ،، بيان

لام کونتهي اُلټا عصا ده
لاس کښې دا دَ هر بابا ده

................ مثالونه ....................

دَ ليمبو ، لوکات په سر کښې
لام به ستا شي په نظر کښې
لفظ ، لغت جوړ دی لام نه
تپوس اُوکړهٔ خاص او عام نه
لام په سر کښې دَ لښکر دے
په لالچ کښې لام په سر دے
لام په سر کښې دَ لاهور دے
اول تهکې لام دَ لور دے
لالټين جوړ مدام دَ لام نه
تپوس اُوکړهٔ دي عوام نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ رڼا ښه وسیله ده
دَ تاریخ یوه حصه ده
لوټه جوړه مدام لام نه
پټه نه ده له عوام نه
په اُودس کښې په کاریږی
په بازار کښې ملاویږی

..............................................

## دَ „ م “ بیان

لام پسې شکل دَ میم دے
په آخر کښې دَ رحیم دے
سرئې ګول دے غټ هرخواته
دَ میم شکل جوړ شو تاته

## ............... مثالونه ...................

میم سره جوړه مرغې ده
ناسته بره په بلې ده
دا خوراك غواړی زمانه
هم خوراك غواړی دا ستانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سـر کښـي ميـم دَ مـوم بتـي دے

ضـــرورت دَ زنـــدګـــي دے

ميـم شـورو کښـي دَ مـزدور دے

سـر کښـي دَ مـلك او مـنشـور دے

سـر کښـي ميـم هـم دَ مـاسـتـو دے

ميـم پـه سـر کښـي دَ مـولـو دے

سـر کښـي ميـم دَ هـر مـاشـوم دے

ميـم پـه سـر کښـي دَ مـظـلـوم دے

ميـم مـذهـب کښـي پـه مـاده کښـي

سـر کښـي ميـم پـه مـدرسـه کښـي

مـحـمـدؐ کښـي ميـم اول دے

رهـنـمـا زمـونـږه تـل دے

ميـم پـه سـر کښـي دَ مـوسـم دے

ميـم اخـر کښـي دَ ادمؑ دے

دَ مـالتـهـي پـه سـر کښـي ميـم دے

پـه اخـر کښـي ميـم دَ نيـم دے

مـوبـائـل کښـي ميـم پـه سـر کښـي

اول تـه کـي مـقـدر کښـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ميـــــــړۍ ميــــم ســـــــره جــــوړيـــــــږي
اتـــــــفـــــــــــاق ســــــــــره اُوسيـــــــــــږي
پــــــــه ګـــــــرمــــي کښــــي ذخيــــره کـــــړي
بيــــا يــــخـــنــــي کښــــي ځـــان دمــــه کـــړي

.......................................

## دَ „ ن ،، بيان

ميــــم پســــــــــے مـــــقــــــــام دَ نــــون دے
ځـــومـــــره ښــــکـــلـــي دا مـــضــمـــون دے
يــــوه کـــــنــــــده يـــو نــــقــــطــــــه ده
دا نـــقـــطــــه پــــه ميـــنـــځ پــــرتــــه ده

## ................ مثالونه ....................

ســـــر کښــــي نــــون دَ نـــــاشپـــــاتــــي دے
نــــــون شــــــورو کښـــــــــي دَ نــــــوږي دے
ســـــر کښـــــي نـــــون دَ نــــــور، نـــــرم دے
پـــــــــــه آغـــــــاز کښـــــي دَ نــــــظـــــم دے
نــــــون نبــــــی کښـــــي پـــــــــــه اول دے
اول تــــــــکـــــــــــي دَ نـــــــفـــــــــــل دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابتـــدا کښــي پـــه نــقـــطـــه کښـــي
نــعـــت، نــعـــره، پـــه نتيـجـــه کښـــي
پــــه نسيـــم، نســــل، نـــظـــر کښـــي
ذَ نــــايـــــاب ټـــکـــی پــــه ســر کښـــي
پــــه نــغـــمـــــه، نــمبـــر، نشـــان کښـــي
نـــــون اول وی دي مــــــکــــــان کښــــي
نــمـــــر کښـــي نـــون پـــــه ابتـــدا وی
مـــخــــامـــخ کـــــۀ ټـــکـــي دا وی
وسيــــلــــــه بـــــــۀ ذَ رنـــــا ده
ذريـــــعــــه بـــــۀ ذَ رنـــــا ده

................................................

# ذَ " ڼ " بيان

نـــون ذَ نـــون پـــه شـــان هـــرخـــواتــــه
يـــو کـــونـــډه لانـــدي ئـــي مَـــلا تــــه

## ............... مثالونه ...................

نــــوڼ راځــــی مـــدام اخـــر کښـــي
وی دغــــه تــــمـــــام اخـــر کښـــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بــــونړ او چـــــانړ ئــــي مثـــــالـــونــــه
يــــاد کـــړه نـــور داســـي ځيـــزونـــه

.........................................

## دَ ,, و ،، بيان

نــــونړ پســـــے هــــرخــــواتـــــــه واؤ دے
ســـــرئــــي کــــول پــــوره راتـــــاؤ دے

............... مثالونه ..................

واؤ نـــــــــــــه وړی دَ جهــــــــــــان دی
دا کــــــرلـــــــی چــــــي انســـــــان دی
پــــخـــــي شــــوي چــــي نيـــنـــــي دی
دَ جـــــــــــوارو دا دانــــــــــــــي ده
وُنــــه دا زمـــونـــړ پـــــه پـــخــوا کښــي
ســيـــوري دغـــــه پـــــه دُنيــــا کښـــي
دا کــــــرلــــــــی مشــــــــرانــــــو
ددي کـــــلـــــــي مشـــــــرانـــــو

.........................................

## دَ ,, ه ,, بيان

ناسته ګول وي يا دوه سترګي
ياده هاکړه دا دوه سترګي

### ............... مثالونه ...................

دَ هاکي په سر کښي هي ده
لوبه ډيره دَ مزي ده
دا قامي لوبه دَ ټولو
اے وړو، لويو، همځولو
دَ هلك ټكي په سر كښي
هي به ستا شي په نظر كښي
هي چي څنګ ده ابتدا كښي
داوي مينځ كښي انتها كښي

..................................................

## دَ ,, ى ,, بيان

### ............... مثالونه ...................

يي نه يوے راځي وروره !
په پټو كښي دغه ګوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ غوئی په خټ پرته ده
عجيبه ددي نقشه ده

................................................

## دَ ,, ی ،، معروفه بيان

څنګ په څنګ په کښي وی ټکی
په ښه رنګ په کښي وی ټکی
دغه ټکی يي نه لاندي
لاندي يي نه دا مدام وی
مخکښي زير په دي مقام وی
لږ په زور دا اداکيږی
دا چي کله ښکاره کيږی
چي وی جمع دَ اسمونو
چي وی جمع دَ نومونو
هلته کښي زياته اکثره
دا موندي شی اے بشره !
که واحد او مذکر وی
مجهوله کهٔ په آخر وی
هلته جمع کښي مدام وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په صورت به بنۀ تمام وی

يو سرے دے ، ډېر سري وی

يو زمرے دے ، ډېر زمري وی

دَ فعلونو په آخر کښې

داراتلے شي لر او بر کښې

خوري ، ساتي يې مثالونه

ډك له دي نه کتابونه

## ............... مثالونه ...................

دَ امين ، کښين په مينغ کښې

تل دَ شين او سين په مينغ کښې

معروفه ئي به مدام وی

دَ هريو ئي خپل مقام وی

دَ غريب ئي معروفه ده

دَ نصيب ئي معروفه ده

مينغ کښي ئي دَ ټکی تيم

معروفه ده ئي دَ نيم

معروفه ئي دَ فقير ده

دَا امير ده دَ اسير ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چي ګيره يا ديوه ده

مينغ کښي ئي ئي معروفه ده

مثالونه ئي هم نورشته

زيات بة ؤپرپه هريو لورشته

.............................................

## دَ „ ي ‟ مخصوصه بيان

دا خاص شوي خاص مقام له

دا يا نه ده هر کلام له

ددي يا مقصد جُدا دے

تلفظ ئي لنډ صفا دے

نه اُوږديږي په ګفتار کښي

هر طرف ته په اظهار کښي

ښه پسته نرمه ادا ده

مخصوصه ټوله دا يا ده

معروفي نه لږ بدله

هر ادا لرونکي خپله

لږه لرے مجهولي نه

بيل آواز لري له دي نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ميـــــنـــــغ آواز ددي يـــــــــاکـــــــانـــــو
دا کـــــرۀ يــــاد پــــــه مـــــاشـــــومـــانــو
مـــجـهـــولــــــه نــــــه مــعـــــروفـــــه ده
يـــا پــــه ميـنـــغ کښـــي مـــخـــصـــوصـــه ده
لانــــدي بــــانـــدي پــــه کښـــي تـــکـــي
بـــــانـــــدي لانـــدي پــــه کښـــي تـــکـــي
دا ښـــــکــــــــاره ئـــــي عـــــلامـــــت دے
ښــــه ښـــکـــاره ئـــي شـــنـــاخـــت دے

## ............... مثالونه ...................

ميـنـــغ کښـــي ئـــي ده پـــه غـــلبـــل کښـــي
ميـنـــغ کښـــي بـنـــده ده پـــه جـــبـــل کښـــي
پـــــه راشـپـــبـــل تـــکـــي کښـــي ئـــي ده
تـــل پـــــه ســبـــل تـــکـــي کښـــي ئـــي ده
ئـــي راغـــلـــے ده پــــه کـــبـــر کښـــي
ئـــي راغـــلـــے ده پــــه ســبـــر کښـــي
دلتــــــه ئـــي بــــه مــخــصـــوصـــه وي
کيــــــدے نشـــــــــي چـــــــي اُوږده وي
ذَ مـــــبـــــز ئــــي بـــلــــــه ذَ تـــبـــل ده

مخصوصه ئې هم دَ فېل ده
دَ لالتهېن ئې مخصوصه ده
دَ رنها بنۀ ذريعه ده

................................................

## دَ „ ی ه “ تانيثي بيان

دا چې وروستو ئې لکۍ ده
بيله بيله په مرضې ده
تانيثي يا دغه ياده
نه ده نه ده بې بنياده

..................... مثالونه .....................

دَ تانيث ئې دَ تختۍ ده
دَ کړۍ هم دَ ډوډۍ ده
ئې آخر کښې په درۍ کښې
تانيثي ئې ده لکۍ کښې
دَ بوجۍ ، درۍ ، کرسۍ ده
تانيثي ئې دَ کتهوۍ ده
دَ جينۍ تکۍ آخر کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تانیثی یا دغه درکښې
تانیثی دا دی ئې ګانې
په یادولو کښې اسانې

..............................................

## دَ „ ئ " امریه بیان

امریه یا کښې طلب وی
منع څه چې ستا په لب وی
چې په یې باندې همزه وی
خامخا دا امریه وی
ښه اسان ئې علامت دے
ښه اسان ئې شناخت دے

............... مثالونه ...............

مه خورئ کند بلا بازار کښې
مه اُودریږئ چرته لار کښې
کار کوئ اسان او ګران
یادوئ اسان او ګران
ولیکئ سبق خوشخطه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نقل کړئ سبق خوشخطه
پاځئ پاځئ مونږ دَ پاره
هیره نه کړئ نیغه لاره
دغه حکم دغه کار
دَ بل منع په ګفتار
امریه لفظونه ټول دی
خامخا دغه یادول دی
په کښې يې تل امريه وی
يې دَ پاسه به همزه وی
دا اسان يې علامت دے
ښه اسان يې شناخت دے
مثالونه ددې ډېردی
دَ عاقل نه کله هېردی

..................................................

## دَ „ ے “ مجهوله بیان

دا پرته او ملاسته ټوله
نه راتلې شي ناسته ټوله
په پرته يې دغه یاده

(c) ketabton.com: The Digital Library



مَلا ددي سمه برياده
ملاسته ملاسته په ميدان وی
دا چي چرته کښي بيان وی
مجهوله باندي ياديږی
يي خفه باندي ياديږی
هر ساعت پرته پرته وی
چي ئي دلته تذکره وی

## مثالونه

دا په کور کښي چي تالے دے
قيمتی چي دا کالے دے
مجهوله دلته کښي ياده
چي اخر کښي دا اداده
بل سپرلے دے که ازغے دے
دا کۀ بل تهکي سړے دے
ياء مجهوله ئي اخر کښي
ستا مدام دي وی نظر کښي
بل منګے دے کۀ ميږے دے
حفاظت لره کۀ سپے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



يا اخر ته ئي مجهوله

دا خبره ښه معقوله

ددي ئي دا مثالونه

ډك له دي نه كتابونه

.................................................

## دَ پښتو پنځه يي ګاني

سكول ته لاړي ماشوماني

دا پنځه واړه يي ګاني

معروفي سره كتاب وُ

په كتاب ښكلي ګلاب وُ

مخصوصي سره تختۍ وه

دَ اِملا دَ خوشخطۍ وه

تانيثي سره بسته وه

ورسره يو امرسه وه

امرئي سره قلم وُ

دَ خپل كار ورسره غم وُ

مجهوله ستړے خفه وه

درنه ډيره ئي بسته وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اُوربِده دوی ســــــــره پـــــــــــه خـــــنګ وه
دا بـــــــدلـــــــــــه لړ پـــــــــــه رنګ وه
خـــنګ پــــــه خـــنګ وے دوی روانـــــي
پـــــه شـــريـــکـــــه پـــــه خـــوريـــانـــي
چـــي کـــوشـــــش کـــوی دُنيـــا کښــي
مـــدام ګـــرځـــی پــــه رڼـــا کښـــي
عــــــلـــــم حُســـــــن او ښـــــکـــــلا ده
عـــــلـــــم پـــــو هــــــــــــه ده رڼـــــا ده

............................................

## دَ کتاب ورومبي برخه سرته وورسيدهٔ. الحمد لله

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم اللّٰه الرحمٰن الرحيم

# وصلی اللّٰه علیٰ النّبیّ الاُمّی

## دَ الف او بې خاندان

ګاونډيان الف او باء دي
خپل خپلوان دَ پې او تاء دي
ټې ددوی دَ خاندان ده
ثې تړوله دَدوی په شان ده
دوه کورونه شپږ حرفونه
پنځه يو ځائې يو شکلونه
يو په تن صورت بدل دے
نيغ ولاړ په هر محل دے
دا يادېږی په الف
يانيږی په الف
دغه دوه دی خاندانه
درنه هير نشی انسانه!

..............................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ ,, ب ,, خاندان

کور کښي ټول اُوسي دَ بي
بي بي وائي ورته پي
تي دَ ټي ده مشره خور
ټول کارونه کړي دَ کور
ثي دَ ټولو نه وړه ده
خو په خوئي درنه مړه ده
حیاداره کورني ده
ښه دینداره کورني ده
ګاونډیان دي دَ الف
قدردان دي دَ الف
بل طرف ته په دُنیا کښي
ورسره اُوسي جیم خوا کښي
ښه ګاونډ ئي دَ جهان دے
قدرمنده خاندان دے

........................

..........

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ جیم او دال خاندان

جیم دَ ځیم یو خاندان دے
چي دَ ځیم په رنګ په یو شان دے
حي دَ خي اُوسیړی خواته
په یو خال بدل دُنیا ته
دال د خاء دے په ګاونډ کښي
مدام دا دے په ګاونډ کښي
ډال دَ ذال دَ خاندان دے
په خپل ځائي ښه قدردان دے
دا ټول دوه دی خاندانه
هیر دي نشي دا انسانه!
شپږ اُوسیړی یو محل کښي
دري اُوسیړی محل بل کښي
شپږ په شکل دی یوشان
دري دَ بل دی خاندان

..............................

.............

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دَ ړې خاندان

ړې دَ ړې ده په ګاونډ کښې
ژې دَ ږې ده په ګاونډ کښې
د دوی يو دے خاندان
په صورت شکل يو شان

..............................

## دَ سين خاندان

سين سره اُوسيږی شين
ورسره په خوا کښې ښين
دَ دوی يو محل دے کور
ورسره نيشته څوک نُور

..............................

## دَ صاد خاندان

صاد دَ ضاد سره آباد دے
خاندان له غم آزاد دے
بس دوه تنه دا دَ کور دی
داسې وايه ورور او خور دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



..............................

## دَ عين خاندان

عيـــن دَ غيـــن دَ کـــوريـــو کَـــــــس دے
دغــــــه سپيـــن اوتـــوريَـــو کَـــــس دے
دواړه وروړنـــــــه ميـــنــــــه نـــــاك دي
پــــــه بـــدن پـــــه کپـــړو پـــــاك دي

..............................

## دَ في خاندان

فـــــي يـــواځـــي اُوســـي کـــور کښـــي
داســــي ژونـــد وی سَـــم پـــــه اُور کښـــي
چـــي ئـــي نـــۀ څـــــه خـــانـــدان وی
بــــس يــواځـــائـــي پــــه جهــــان وی

..............................

## دَ قاف خاندان

قـــاف دَ فـــي پـــــه شـــان يـــوځـــائـــي
ښـــۀ نـــــه دے انســـان يـــوځـــائـــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورتـــــــه ګـــــران دَ دُنيــــــا ژونــــد وی
تـــن يـــو ځـــــائـــي فـــکــــر مـنـــد وی

..........................

## دَ کاف خاندان

کـــــاف دَ قـــــاف پـــــه شـــــان يـــوا ځــــي
بـــــــۀ نـــــــه دے انســـــــان يـــوا ځـــــي
کــــلــــــه ژونـــد ورتــــــه اســــــان وی
دا ژونـــــدون ورتـــــــه ډيـــــر ګــــران وی

..........................

## دَ ګاف خاندان

ګــــــاف دَ لام پـــــــه شـــــان يـــو تـــن دے
بيــــل ئـــــي کـــــور دے بيـــــل وطـــن دے
نيشتـــــــه ځـــــوك ورســـــره کـــــور کښـــــي
زنـــــدګــــی ئـــــي سَــمــــــه اُور کښــــي

..........................

................

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دَ لام او ميم خاندان

ميم دَ لام په شان يو اځي
دَ ام په شان يو اځي
ډير کهٔ وی خو مقتديان وی
مخکښي کله ډير کسان وی ؟
نيشته څوك ئي خاندان کښي
ورسره په دي جهان کښي

..............................

## دَ نون خاندان

نون دَ نون سره يو ځائي وی
بيل په يو کرښه تړوبي وی
يو ئي دلته خاندان دے
د دوی بيل کور دَ جهان دے

..........................

## دَ واؤ خاندان

واؤ په شکل تول جُدا دے
تاؤ صورت ئي دَ دُنيا دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



عجيبه شکل وصورت ئي
بره ګوره حقيقت ئي

..............................

# دَ هيِ خاندان

هي يواځائي دوه ئي سترګي
سَم غم رازي دوهٔ ئي سترګي
په خپل کور کښي دا يواځي
دَ بل کور کښي دا يواځي

..............................

# پنځه قسمه ئي ګاني

دا پنځه قسمه ئي ګاني
دي پښتو کښي راروانې
معروفه په کښي اول ده
ډيره ډيره مستعمل ده
څنګ چې يا دا معروفه ده
نوم دَ بلي مخصوصه ده
دا خاص شوي خپل مقام له

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ پښتو حسين كلام له
دَ تانيث په كښي ياء بله
نخانه ئي هر يو خپله
امريه ياء په امر كښي
راځي هر خوا په نظر كښي
مجهوله يا ملاسته ملاسته
نه وي نه وي دغه ناسته
دا پښتو دَ پښتنو خواده
دَ هرچا لهجه جُدا ده

## تحمت بحمد اللّٰه وبتوفيقهٖ

## ربنا تقبل منا انك انت السميع العليم

## وتب علينا انك انت التواب الرحيم

وماتوفيقى الا باللّٰه العلى العظيم

وصلى اللّٰه تعالىٰ علىٰ خير خلقهٖ محمد واٰله

واصحابهٖ اجمعين . آمين

يارب العٰلمين .

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**